NM TOGETHER for HEALTHCARE

# خپل حقوق وپېژنئ

## په نیو میکسیکو کې د کډوالو کورنیو لپاره د روغتیایی پاملرنې پوښتنې

**د کډوالۍ وضعیت کولای شي په هغو روغتیایی پوښتنې پروګرامونو اغیزه وکړي چې د نیو میکسیکو اوسیدونکي ورته غوښتنلیک ورکولی شي، خو د کورنۍ د مختلفو حالاتو لپاره بیلابیل انتخابونه شتون لري. د وړتیا معیارونه په عاید، عمر، د امیدوارۍ په حالت، په ایالت کې په استوګنې او نورو روغتیایی پوښتنوونو ته په لاسرسي هم پورې اړه لري.**

**مهم: یو کس کولی شي د کورنۍ د غړو لپاره د پوښتنې غوښتنه وکړي پرته له دې چې پخپله غوښتنه وکړي. هغه خلک چې د پوښتنې غوښتنه نه کوي عموما د غوښتنلیک لپاره د ټولنیز امنیت شمیره یا د کډوالۍ حالت معلومات چمتو کولو ته اړتیا نلري.**

**لاندې د روغتیایي بیمې د هغو انتخابونو لنډه پېژندنه ده چې ستاسو د کډوالۍ د وضعیت او شخصي شرایطو له مخې ښایي تاسو ته د لاسرسي وړ وي. د دې پروګرامونو او د روغتیایي پاملرنې د نورو حقونو، سرچینو او خوندیتوبونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره nmtogether4health.org ویبپاڼه وګورئ**

**SCAN ما وکړئ:**

## میډیکېډ

**میډیکېډ (Medicaid) د کم عاید لرونکو اشخاصو، لکه ماشومانو، امیدواره ښځو، سپین ږیرو او معلولو کسانو لپاره د روغتیایی پاملرنې هراړخیز پوښښ برابروي. دا پروګرام د هغو کډوالو لپاره هم د لاسرسي وړ دی چې په قانوني توګه په هیواد کې میشت دي او د پروګرام اړوند شرایط، لکه د استوګنې او عاید شرایط، پوره کوي.**

**د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر له لومړۍ نیټې څخه، فدرالي حکومت د هغو کډوالو ډولونه محدودوي چې په قانوني توګه دلته میشت دي او د میډیکېډ (Medicaid) پروګرام لپاره وړتیا لري. د میډیکېډ لپاره د وړتیا شرایط اوس په لاندې مواردو پورې محدود دي:**

- **په قانوني توګه دایمي اوسېدونکي (د ګرین کارډ لرونکي)**
- **کیوبا یي/هایټي نه راغلي کسان**
- **د COFA (د ازادۍ ټولنې ټړون) له مخې کډوال**
- **د ۲۱ کلنۍ څخه کم عمره ماشومان (چې دلته په قانوني توګه اوسیږي)**
- **امیدواره ښځې (چې دلته په قانوني توګه اوسیږي)**

**پاملرنه: که ستاسو د کډوالۍ وضعیت له پورته مواردو څخه نه یاست او تاسو اوس مهال په "میډیکېډ" (Medicaid) کې شامل یاست، نو د نیو میکسیکو د روغتیایی پاملرنې اداره (HCA) به تاسو سره د پوستي لیک او متن پیغام له لارې اړیکه ونیسي ترڅو تاسو خبر کړي چې ستاسو د پوښښ (بیمې) موده پای ته رسیږي. همدارنګه، تاسو باید د نیو میکسیکو د روغتیایی بیمې د تبادلې مرکز، BeWell له لارې د بیمې په پوښښ کې د شاملېدو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.**

**خپل معلومات تازه وساتئ ترڅو د خپل پوښښ (بیمې) په اړه مهمې خبرتیاوې له لاسه ورنکړئ!**

په بله پاڼه کې نور معلومات



Updated September 2026

# خپل حقوق وپېژنئ

## BeWell

**BeWell د نیو میکسیکو د روغتیایی بیمې مارکیټ دی. دا د هغو اشخاصو لپاره د خصوصي روغتیایی بیمې پلانونه وړاندې کوي چې د میډیکیډ (Medicaid) یا میډیکیر (Medicare) لپاره وړ نه دي او د ګمارونکي لخوا چمتو شوې ارزانه بیمې پوښښ ته لاسرسی نه لري.**

**ډیری هغه کډوال افراد او کورنۍ چې په قانوني توګه دلته میشت دي، کولی شي د BeWell له لارې د بیمې د لګښتونو د کمولو لپاره، د خپل عاید پر بنسټ مالي مرسته ترلاسه کړي.**

**تاسو یوازې د کال په خلاصو وختونو کې د BeWell پوښښ (بیمې) لپاره نوم لیکنه کولی شئ، مګر دا چې په ژوند کې مو کوم بدلون راشي؛ لکه د ماشوم زیږېدل، واده کول یا طلاق اخیستل، او یا هم د بلې بیمې د پوښښ له لاسه ورکول.**

**ډیری نوي مکسیکویان د هغو پلانونو لپاره وړ دي چې عاید یې په میاشت کې د ۵۰ ډالرو څخه کم وي..**

**څینې کسان حتی مستحق کېږي د... د میاشتې صفر ډالره (میاشتنۍ فیس نه لري).**

**پاملرنه: نیو میکسیکو د BeWell مالي مرستو پروګرام پراخوي، ترڅو هغو کډوالو ته چې په قانوني ډول په متحده ایالاتو کې حضور لري او د فدرالي حکومت د بدلونونو له امله د Medicaid د وړتیا شرایط له لاسه ورکوي، ارزانه روغتیایي بیمې ته د لاسرسي په ساتلو کې مرسته وکړي. په دې کې د کډوالۍ لاندې حالتونه شامل دي:**

- **بشردوستانه parolees ( د بشري دلایلو له مخې امریکا ته د موقتي داخلېدو اجازه لرونکي کسان)**
- **د کورني تاوتریخوالي یا قاچاق څخه ېچ پاتې شوي کسان**
- **پناه غوښتونکي**
- **مهاجرین**

**دا کسان باید له HCA او BeWell څخه خبرتیا ترلاسه کړي چې څنګه په BeWell پوښښ (بیمه) کې نوم لیکنه وکړي. د ۲۰۲۶ کال د نومبر تر لومړۍ نیټې پورې په BeWell کې غوښتنه وسپارئ ترڅو د کال په پاتې برخه کې سټاسو د پوښښ پروسه له څنډ یا وقفې سره مخ نشي او د ۲۰۲۷ کال لپاره هم په اتوماتیک ډول په پوښښ کې شامل شئ.**

## د DACA د پوښښ پروګرام

**د فدرالي حکومت د اقداماتو له امله، د DACA پروګرام ګټه اخیستونکي نور نشي کولی د BeWell له لارې د روغتیایي بیمې پوښښ ترلاسه کړي. همدارنګه، د DACA ګټه اخیستونکي د Medicaid پروګرام لپاره هم وړ نه دي. نیو میکسیکو یو داسې پروګرام رامینځته کړی چې د DACA ګټه اخیستونکو ته د روغتیایي بیمې د اخستلو لپاره مالي مرسته برابروي.**

**د DACA د پوښښ پروګرام لپاره د وړتیا ترلاسه کولو په موخه، یو کس باید:**

- **د نیو میکسیکو اوسېدونکی اوسئ.**
- **د DACA ترلاسه کوونکی اوسئ**
- **بندیان نه وي**
- **د روغتیایي بیمې بل هېڅ انتخاب ته لاسرسی ونه لري، لکه د کار ورکوونکي له خوا ورکړ شوې بیمه**
- **د کورنۍ عاید د فدرالي فقر د کچې ۴۰۰٪ یا تر هغه کم وي.**

**د نوم لیکنې ظرفیت محدود دی. نور جزئیات په دې پته موندل کیدی شي: https://www.hca.nm.gov/daca-coverage/**

## د غیر اتباعو لپاره بیړني طبي خدمات (EMSNC)

**EMSNC (چې پخوا د EMSA په نوم یادېده) د هغو کډوالو لپاره دی چې د خپل کډوالۍ د وضعیت له امله میډیکیډ (Medicaid) نه شي ترلاسه کولی. EMSNC د بیړنیو طبي خدماتو، په شمول د زیږون اړوند خدماتو، لګښت ورکوي.**

**که تاسو لاندې پوښتنو ته په "هو" ځواب ورکړئ، نو ښایي د EMSNC لپاره وړتیا ولرئ:**

- **ایا په تیرو ۹۰ ورځو کې مو بیړني (ایمرجنسی) خدمات ترلاسه کړي دي؟**
- **ایا تاسو د خپل کډوالۍ د وضعیت له امله د Medicaid روغتیایي بیمې مستحق نه یاست؟**
- **ایا تاسو په نیو میکسیکو کې اوسیږئ؟**

**د خپلو خدماتو له ترلاسه کولو وروسته د ۹۰ ورځو په موده کې د عاید د ملاتړ څانګې (ISD) ته د طبي مرستې غوښتنلیک وسپارئ.**

**پوښتنې لرئ؟ له 505 255 2840 شمېرې سره اړیکه ونیسئ یا nmtogether4health.org وګورئ.**

**د نیو میکسیکو د قانون او بې وزلۍ مرکز په همکارۍ سره جوړ شوی.**

NM center on law and poverty